شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۰۵ ګڼه / چهارشنبه ۱۲ رمضان‌المبارک ۱۴۴٦ هـ.ق / د کب ۲۲مه ۱۴۰۳ هـ.ش / ۱۲ مارچ ۲۰۲۵ میلادي

هند او افغانستان له پېړیو راهیسې اوږدمهالې ګډې اړیکې لري

په ملګرو ملتونو کې د هند دایمي استازي ورمه ورخ ویلي، چې هند په افغانستان کې حالت له نږدې څاري او له اسلامي امارت سره یې د دوه اړخیزو اړیکو اړوند په بېلابېلو موضوعات بحثونه کړي دي.

پروتانینې هریش دغه راز ټینګار کړی، چې هند او افغانستان له پېړیو راهیسې اوږدمهالې اړیکې لري او د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډ مشترکات شته.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي د ملګرو ملتونو په دې غونډه کې په دوبۍ کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي او د هند د بهرنیو چارو وزیر ویکرام میسري پخوانۍ ناستې ته هم اشاره کړې ده.

عمان له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخوي

شریعت: د افغانستان بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي عمان ته د خپل سفر په لړ کې د عمان د بهرنیو چارو له وزیر بدر بند حمد البوسعیدي سره کتلي او ژمنه یې کړې چې دواړه هېوادونه به په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ډګرونو کې د دوه اړخیزو همکاریو نوې لار پرانېزي.

د بهرنیو چارو وزارت وياند ضیاء احمد تکل په وینا، عمان ته د افغان توکو د صادراتو پراختیا او د ګډو الوتنو پیل د د دغې غونډې مهم ټکي وو.

ښاغلي تکل د مولوي امیر خان متقي له قوله، افغانستان کې رامنځته شوي شرایط د بهرنۍ پانګونې په تېره د عماني سوداګرو لپاره ښه فرصت ګڼي. ۳مخ

چین خواهان لغو تحریم‌های شورای امنیت سازمان ملل متحد بر مقام‌های امارت اسلامی شد

فو کونگ، سفیر دایمی چین در سازمان ملل متحد طی سخنرانی در شورای امنیت این سازمان خواهان لغو تحریم‌های سازمان ملل متحد مقام‌های امارت اسلامی شده است.

سفیر دایمی چین در سازمان ملل متحد افزوده، با تعدیل تحریم سفر مقام‌های امارت اسلامی، زمینه تعامل بیشتر با افغانستان فراهم خواهد شد و جامعه جهانی می‌تواند وارد همکاری و گفتگو با این کشور شود.

او تأکید کرد که با درنظرداشت نیازمندی به کمک‌های بشردوستانه در افغانستان کشورهای غربی باید بدون توقعات و ملاحظات سیاسی به مردم این کشور ... ص۳

ایراني کارګر د کار لپاره افغانستان ته راغلي

د ایران د کارګرانو عالي شورا استازي محسن باقري ویلي، چې د دې هېواد کارګرانو د ښه مزد د ترلاسه کولو په موخه افغانستان او عراق ته مخه کړې ده. نوموړي زیاته کړې، چې د کورني بازار د کار کولو شرایط نامناسب دي؛ نو له همدې امله ایراني کاګر د غوره مزد په بدل کې د کارموندنې په پار افغانستان او عراق ته کډوالېږي. یاده دې وي، په افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو دا ښيي چې د هېواد اقتصاد وده کړې او کارګرانو ته د معقول مزد ورکولو وړتیا لري.

د هوا په ښه کېدو د تاپي پروژې چارې چټکې شوي

د کانونو او پټرولیم وزارت مسئولین وايي، چې د اقلیمي شرایطو په برابرېدو سره به هېواد کې د تاپي پروژې چارې لا ګړندۍ شي. د تاپي د ګازو د نللیکي پروژه، چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته لېږدوي، په افغانستان کې ۸ کیلومتره پرمختګ لرلی دی. د کانونو او پټرولیم وزارت همایون افغان وايي، اوسمهال د دې پروژې کار په هرات کې روان دی او د هوا په ښه کېدو سره به یې چارې چټکې شي. د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند وايي، اوسمهال په افغانستان کې د دغې پروژې د پلي کېدو پر وړاندې هېڅ خنډ نشته او په دې پروژه کې ښکېل هېوادونه ژمن دي چې دا پروژه پر ټاکلي وخت کې بشپړه کړي.

رسالت ومسئولیت رسانه ها در بازتاب دهی واقعیت ها
ص۲

ماه مبارک رمضان، ماه توبه و استغفار
ص۲

غور کې لسګونه پروژې پیل شوې

د غور ولایت د اقتصاد ریاست مسئولینو په دغه ولایت کې په روان لمریز کال کې د ۱۶۷ میلیونه افغانیو په لګښت د ۳۶ بېلابېلو پروژو د پلي کېدو خبر ورکړی دی. د یاد ولایت د اقتصاد رییس محمد نبي خالد منصور ویلي چې د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کې د ۱۶۷ میلیونه افغانیو په لګښت ۳۶ بېلابېلې پروژې پلي شوې، چې له جملې یې ۱۵ پروژو د یاد ریاست له لورې او پاتې نورې د همکارو موسسو په مالي ملاتړ پلې شوې دي.

توزیع پول نقد و صدها متریک تُن مواد خوراکه حیوانی در بدخشان

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌گوید، ۲ هزار ۸۰۰ خانواده مالدار در ولایت بدخشان کمک‌های نقدی، مواد خوراکی برای حیوانات‌شان و تخم علوفه دریافت کردند. ص۳

سرمقاله

د ملګرو ملتونو په لاس د انصاف تله

ملګري ملتونه وخت ناوخت د افغانستان د امنیتي، بشري، اقتصادي، نړیوالو اړیکو، نشه يي توکو او نورو په تړاو خپلې موندنې شریکوي؛ خو ډېری وخت د دوی راپورونه او موندنې یواړخیزې وي او خپله پخه عقده یې پکې له ورایه ښکاري. بېلګه به یې د نشه يي توکي ورکړو. د اسلامي امارت د زعیم له لوري درې کاله وړاندې د نشه يي توکو کښت، پېروپلور منع اعلان شو او له هغې نېټې وروسته د نشه يي توکو کښت د پام وړ کم شو او یا که وواېو په پوره مانا یې ټغر ټول شو. دا حقیقت نه یوازې ونه منل شو، بلکې کله کله اورو او وینو چې همدا سازمان او نور ادرسونه د نشه يي توکو د بېساري زیاتونې خبرونه ورکوي. په خوا کې ځیني بربېښنايي او چاپي رسنۍ د افغانستان د اوسني وضعیت جاج په پوره صداقت نړۍ ته ښيي. د بېلګې په توګه د نشه يي توکو په تړاو، تېر کال د ټلیګراف په نوم یوې ورځپاڼې څېړنیز راپور خپور کړ چې په واضحه توګه یې وویل چې د بشر په تاریخ کې د نشه يي توکو پر وړاندې داسې مبارزه نه وه شوې، کومه چې اسلامي امارت وکړه. دې اروپایۍ ورځپاڼې وویل چې امریکا او ناټو د همدې بدمرغي بوټي د نابودۍ په پار پر افغانستان یرغل وکړ، خو ددې پرځای چې دا پدیده نابوده کړي، څو چنده یې زیاته کړه. هلمند کې د برېتانوي او ناټو ځواکونو ستر مرکزونه وو، خو همدا هلمند د نشه يي توکو ستر تولیدځای و. ددې څېړنیز راپور له مخې یو وخت افغانستان د ټولې نړۍ د نشه يي توکو ۸۰ سلنه خام توکي برابرول، خو اوس د نشه يي توکو پر بدیل (مصنوعي نشه يي توکو) غور کیږي. د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې نشه يي توکي له مخې ورک شوي او دا ددې سبب شوی چې اوس په نړیوالو بازارونو کې د نشه يي توکو کاروبار له سقوط سره مخ دی.

تازه ملګرو ملتونو د افغانستان د امنیت جاج اخیستی. دغه راپور کې ویل شوي چې په افغانستان کې د امنیت ضد پېښې د تېرکال په پرتله ۱۶ سلنه کمې شوې دي. راپور ویلي چې د تېرکال د نومبر ... ۳مخ

تحویلی پول مصارف حج سال ۱۴۴۶ هجری قمری درمرکز و ولایات رسماً آغاز گردید



تحویلی پول حج سال ۱۴۴۶ هجری قمری از سوی وزارت ارشاد، حج واوقاف در مرکز و همچنان در ولایات ازطریق ریاست های ارشاد، حج و اوقاف رسماً آغاز گردیده است. و به شکل نور مال جریان دارد.

بناءً تمام متقاضیان حج ۱۴۴۶ هـ. ق که نام های شان در جدول زایرین حج سال جاری می باشد مکلف اند تا پول مصارف حج را که مبلغ (۲۸۲۰۹۰) دوصد هشتاد دوهزار و نود افغانی می شود تحویل بانک مربوطه نمایند، قابل یاد آوری است. که وزارت ارشاد، حج و اوقاف ازقبل درمرکز کابل و تمام ریاست های ارشاد، حج واوقاف ولایتی تسهیلات بیشتری رادرامور اداری فراهم نموده تا هموطنان عزیزما بتوانند بدون کدام سکتگی دراسرع وقت اسناد شان راطی مراحل نمایند، البته به خاطرضیقی وقت هرچه عاجل پول مشخص مصارف حج خودراتحویل دهند.

رسالت و مسئولیت رسانه ها در بازتاب دهی واقعیت ها

استوار

جهان امروزی که به وسیله مطبوعات ورسانه ها به یک دهکده مبدل گردیـده رویدادها وحوادث زیـادی بوقوع می پیوندد بازتاب دهی این رویدادها با درنظرداشـت مسئولیت پذیری وغیرجانبدارانه کار حرفوی ومسلکی رسانه ها است.

رسـانه ها در زمینه انعکاس واقعیت ها مسـئولیت ایمانی و وجدانی دارند وهمچنان پاکی وشفافیت مسلک وحرفه خود را باید حفظ نمایند. وقتی یک رسـانه اعتبـار وجایگاه خود را از دسـت بدهد در حقیقت امر دیگر قابلیت ارزش رسانه ای خود را از دسـت می‌دهد ودر میان مردم ارزش رسانه ای نمی داشته باشد.

نمی‌شود یک تعداد فشار ها را بالای رسانه نادیده گرفت، اما درهرصورت رسانه ها باید شفافیت وجایگاه خود را در اجتماع حفظ کنند.

فشارها می‌تواند بالای اهل رسانه از بُعد مادی ومعنوی وتهدید های امنیتی بوده می‌تواند اما در هرصورت اهل رسانه ها تن به پلشتی ها ونابرابری در کتمان حقایق در ندهند اگر چنین باشد رسانه ها جایگاه خود را در جوامع انسانی ازدست داده وقابل پذیرش نمی باشند.

در زمینه تغییر واقعیت ها وکتمان حقیقت طرف ها با استفاده ازهرگونـه امکانات در پخش ونشـر خبر بـه منافع خویش جد وجهد می‌نمایند. تا باشـد منافع خویش را دنبال نمایند وموضوع دیگر اینکه طرف ها در مسایل کشوری وحتا جهانی رسـانه ها را در دسـترس هم دارند وهرطـرف می‌خواهد از رسانه خود به نفع وخواست خود یعنی جانبدارانه پخش ونشر وتبلیغات سوء نمایند که چنین هم است اما دراین میان جایگاه وارزش رسانه ها چه کتبی اسـتند، چه تصویری وصوتی در کل به سـطح جهان جایگاه مطبوعات ورسانه ها خدشه دار می‌شود، اهل رسانه ومطبوعات نباید زیر بار فشارهای امنیتی ،مادی ومعنوی بروند وارزش رسـانه ها ومطبوعات را لطمه بزنند.

به گونه مثال در کشـور عزیز مان افغانسـتان، ما گواه وشاهد استیم که وضعیت در کشـور چگونه پیش می‌رود و از سوی رسانه ها ی آبشخور غرب وضعیت چگونه انعکاس داده می شـود تبلیغات وپروپاگند افگنی های یک تعداد افراد ورسانه های خود ساخته وخود بافته ایشان اصل واقعیت ها ورویداد ها را به گونه وارونه پخش ونشر می‌نماید تا اذهان عامه را اغفال نموده ،آب را خت نموده خود ماهی بگیرند حال رسالت رسانه های واقعی، شفاف ومسئولیت پذیر که متعهد به مسلک وفن رسانه ای استند چیست ؟

باید رسانه ها چه از داخل کشور ویاهم بیرون از کشور نشرات دارند.کمر همت بسته آنچه که واقعیت های عینی جامعه ما است پخش ونشر نمایند این یک واقعیت روشن وهویدا است یک مشـت مردمانی که منافع وجاه وجلال خود را از دست داده اند در پی تبلیغات منفی علیه نظام اسـلامی افغانستان تبلیغات پوچ ومیان تهی می‌نمایند. اما به خاطر خنثی سازی پروپاگند های مرموزانه آنان اهل رسانه ها واهل قلم رسالت ومسـئولیت دارند که بالحن ادب وخامه پرشور خویش واقع بینانه حقایق را انعکاس بدهند تا مردم افغانستان و جهانیان در روشنی واقعی قرار گرفته وجلو دغدغه های دشمنان این کشور گرفته شود ما در کل وانگشت نشان گفته نمی‌توانیم شاید حتا در داخل کشور رسانه های گماشته شده ومزدور از بیرون علیه منافع علیای کشور نشرات وفعالیت داشته باشند، اما باید جلو پخش ونشـر آنعده از رسانه هایی که علیه معتقدات مردم ما ومنافع علیای کشور نشرات دارند هرچه زود تر گرفته شود تا باشد اذهان مردم مارا اغوا ننمایند.

به امید اینکه رسـانه ها درکل اصالت ژورنالیستیکی خود را حفظ نموده زیربار فشـار های مرموزانه قرار نگیرند آنچه که امروز مردم به آن اتکا دارند واعتماد می‌کنند مطبوعات ورسانه ها اسـت چه یک مقوله خوبی در این مـورد داریم هرآنچه بگندد نمک اش زنند وقتی نمک بگندد باچه پاکش کنند

په روژه کې سلف صالحین

حسان مجاهد

سـلف صالحین چې په دین کې زموږ رهبران دي، موږ یې باید پیروي وکړو او له سیرت او تاریخ څخه یې ځانونه خبر کړو؛ ځکه هغوی په ربښـتیني توګه د الله دین پر ځان عملي کـړی و، دا لامل دی چې هم اللــه تعالی ته ګران وو او هم یې زرګونه کاله وروسته زموږ په زړونو کې مینه ژوندۍ پاتې ده. راځئ چې د روژې په مبارکه میاشت کې د دوی کړنې او حالات وګورو او موږ یې هم ترسره کړو.

۱- د قرآنکریم تلاوت کول:

عثمـان رض به هره ورځ قرآنکریم ختماوه، اسـود رض به په دوو شپو کې ختماوه، سـعید بن حبیر رح به په دوو شپو کې ختماوه، قتاده رح بــه د رمضان په هرو دریو ورځو کې ختماوه، إمام ابوحنیفه رح او امام شـافعي رح به شپیته ځله ختماوه، زهري رح به د رمضان په راتګ سره د احادیثو درس پرېښـود او د قرآنکریم تلاوت ته به یې مخه کړه، سـفیان ثوري رح به بل هر عبادت پرېښـود او تلاوت ته به یې مخه کړه.

۲- دتلاوت پرمهال ژړا:

ابوهریـره رض وایـي: کله چـې دا آیت نازل شـو(أَفَمِنْ هَذَا الْحَدِيـثِ تَعْجَبُـونَ (٥٩) وَتَضْحَكُـونَ وَلَا تَبْكُونَ) [النجم:٥٩،٦٠] أصحاب الصفة طالبانـو ټولو په ژړا پیل وکړ او رسول الله ﷺ خپله هم ورسره وژړل. ابن عمر رض چې دغه آیت يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ [المطففین:٦] ته راورسېده، دومره یې وژړل چې بې هوښه پرېووت. مزاحم بن زفر رح وایي: سـفیان ثوري رح د ماښام لمونځ را کاوه، کله چې إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ [الفاتحة:٥] ته راورسېده؛ دومره یې وژړل چې قرائت یې بند شو.

۳- د شپې لمونځ:

معتمر بن سـلیمان رح وایي: په رمضـان کې به زما پلار د کورنۍ ټول غړي را پاڅول او ورته به یې ویل« پاڅئ! شـاید له دې کاله وروسته بیا دا میاشت پیدا نه کړئ! حسن بصري رح به ویل: که د ورځې په روژه او د شـپې په لمانځه قدرت نه لرې؛ نو پوه شـه چې محروم یې او خپلو ګناهونو د خیر له کاره ترلی یې!

٤_کم خوراک کول

ابـي عمران الجوني رح وایي: که څـوک د زړه نور غواړي، خوراک دې کم کړي. ابراهیم بـن ادهم رح وایي: چا چې خېټه وسـاتله، دین یې وسـاتل او څوک چې په خپله لوږه برلاسه شـو، د غوره اخلاقو څښتن به شي. حسن بن یحی رح وایي: که څوک له سترګو د اوښکو بهېدل او د زړه نرمېدل غواړي؛ خوراک او څښـاک دي په نیمه خېټــه کوي. امام شافعي رح وایي: ډېر خوراک بدن درنوي، خوب پیدا کوي، ذهانت له منځه وړي او انسان له عبادته کمزوری کوي.

٤- له ریا څخه ځان ژغورل:

حماد بن زید رح وایي: سـتر محدث ایوب سـختیاني رح به چې کلــه د یو حدیث په اورېدلو زړه نرم شــو او وبه یې ژړل، مــخ به یې واړول، پوزه به یې پاکه کړه او وبه یې ویل: څومره سـخت زکام دی؟! محمد بن واسع رح وایي: داسې کسان خو ډېر وو چې له مېرمنې سره په یوه بالښت به یې سر ایښـی و او د الله تعالی له ویـرې څخه په ژړا به یې مېرمن هم وربانده نه وه خبره! داسـې کسان ډېر وو چې په لمانځه کې به یې ژړل او په څنـګ ولاړ کس به پرې نه و خبر. إبن أبي عـدي رح وایي: د داؤد بن ابي هند رح په څلوېښـت کاله نفلي روژه څوک نه شو خبر، سهار مهال به یې له کوره ډوډۍ واخیسته، په لاره به یې خیرات کړه، بازار کې به خلکو ګمان کاوه چې کور یې خوړلـې ده او د کور غړیو به ګمان کاوه چې له کوره بهر یې خوري!

٥- له لهو لعب څخه ځان ژغورل:

حسـن بصري رح پــه روژه کې ځینې کسـان ولیدل، چې خنـدل یې، نوموړي وویل: روژه الله تعالی د نیکو اعمالو د مسابقې او سـیالیو میدان ګرځولی دی، هغوی چې عبادت یې وکړ، کامیاب شو او هغوی چې له عبادته پاتې شو، ناکام شو، هغه انسـان لره حیرانتیا ده، چې د سیالیو په ورځو کې نور خلک کامیاب شـي او دی خانـدي. نوموړی وایي: له بنـده څخه د الله تعالی د خفګان علامــه داده چې بنده په عبثیاتو لګیا شي.

سـهل رح وایي: هغه څوک له تقوا بــې برخې دی چې په عبثیاتو اخته شي.

٦- خلکو ته روژه ماتی ورکول

ځینو سـلفو به ویل: د لسو کسـانو مړول راته د لسو عربي غلامانو تر آزادولو غوره ده. حماد بن ابي سـلیمان رح به په روژه کې پنځه سـوه کسانو ته روژه ماتی ورکاوه، عبدالله بن عمر رض به همیشــه له یتیمانو او بې وزلو سـره روژه ماتی کاوه. حسـن بصري رح او عبدالله بن مبـارک به ملګرو ته د روژه ماتي بندوبسـت او خدمت کاوه. أبو السوار عدوي رح به ویل: دلته په مسـجد کې به چـا یوازې روژه ماتی نه کاوه، یابه بل څوک ورسـره ناست وو، یا به یې روژه ماتی له مسجده بهر خلکو ته ور وېستل.

۷- ژبه ساتل

عمر بـن الخطاب رض بــه ویل: روژه یــوازې له خوراک څښناك څخه ځان ساتلو ته نه وایي، بلکې ربښتیني روژه داده چې له دروغو او بې ګټو خبرو څخه ځان وژغورې! مجاهد رح بــه ویل: روژه هغه چا له ضایع کېـدو وژغورله چې له دروغو او غیبت څخه یې ځان وژغورل. إبن کثیر رح وایي: ځینو کسانو له حلال رزق څخه روژه نیولې وي، خو په حرام مال(د مسـلمان ورور په غوښو) یې هغه مهال بیا ماته کړې چې غیبت یې وکړي. الله تعالی دې موږ تاسـو ته د سالمې روژې نیولو توفیق راکړي.

ماه مبارک رمضان، ماه توبه و استغفار

ضربی

رمضان ماهی است که درآن آمرزش ، توبه وبازگشت به سوی خداونـد (ج) در کانون توجه قرار مــی گیرد. این ماه فرصتی است برای تمرین دوری از گناهان وتقرب به پروردگار. مؤمنان در این ماه با توبه، اسـتغفار وجبران خطاهای گذشـته وهر عملی که بر خلاف دسـتورات الهی باشـد را از زندگی خود دور می کنند، زیرا درآیات متعدد قرآن کریم پس از اشـاره به توبه برجبران گناهان نیز تأکید شـده است ، این تأکید براین دلیل اسـت که برخی گمان نکنند که توبه بدون اصلاح رفتار وجبران گذشته می تواند ، گناهان را پاک کند. توبه تنها به معنی اسـتغفار زبانی یا ندامت قلبی از گذشته نیست، بلکه علاوه براین ها، شـخص گناه کار باید در عمل به جبران خطاهای خود بپردازد به گونه مثال: اگر دینی بر گردن داشـته باشد باید دین خود را بپردازد، اگر شخصی را آزرده نموده باشد، باید از همان شخص پوزش بخواهد، اگر مال یتیم یا جایدادی کسی را غصب کرده باشد، باید آن را دوباره مسترد کند و....

بنابرایـن این ماه بهترین فرصتی اسـت که باید مسـلمانان، سطحی از پهلویش نگذرند، بلکه از هرلحظه اش می شود، اسـتفاده بهینه کرد تـا فضیلت وبرکت را شـامل حال خود ساخت.

در روایات آمده است هنگامی که رسول مقبول اسلام حضرت محمد مصطفـی(ص) خطبه شـعبانیه را ایـراد می فرمود ،حضرت علی (ک) برخاسـتند وپرسـیدند، ای رسول خدا دراین ماه کدام عمل بافضیلت تر است؟ پیامبر گرامی اسلام در پاسخ فرمود: برترین عمل دراین ماه پرهیز از گناهان است، ایشان در جریان خطبه، سه عضو مهم بدن را منشأ بسیاری از گناه دانسته ونام برد؛ زبان خود را نگه دارید، چشم های خود را از آنچه نگاه به آن حرام است، بپوشانید و گوش های خود را آنچه شنیدنش حرام است، بازدارید.

همچنان ایشان تأکید کردند : بدبخت کسی است که در این ماه مبارک از آمرزش خداوند (ج) محروم بماند.

بنابراین ماه مبارک رمضان نه تنهامژده دهند بخشایش لغزش ها وگناهان است ،بلکه فرصتی استثنایی برای بازگشت گناه کاران به سـوی خداوندعزوجل نیز می باشد . در این ماه مسلمانان مــی توانند با خداوند(ج) پیمان ببندند که از گناهان دسـت می کشـند، خود را اصلاح و گذشته را جبران می کنند، بدون تردید ،گناه کاری که در این ماه با نیت خالصی برای خداوند عزوجل روزه بگیرد از گذشـته خود ندامت و پشیمانی نماید و از درگاه الهــی طلب آمرزش کند، بدون شـک موردلطف وبخشش او تعالی قرار خواهدگرفت. انشاءالله

اهمیت اقتصادی پروژه تاپی

نوری

تاپـی یکی از پروژه های بزرگی اسـت، که گاز ترکمنسـتان را از خاک افغانسـتان به پاکستان و هند انتقال می دهد. با اسـتقرار امارت اسلامی تلاش زیاد صورت گرفت که کار این پروژه در خاک افغانسـتان شـروع شـود. در این چند روز کار پروژه تاپی در هرات آغاز شـده که سـبب خوشـنودی مردم گردیده اسـت. دفتر مطبوعاتی ولایت هرات به رسانه هـا گفته که« پروژه تاپی در فازهای مختلف در شـمال ولایت هرات به سرعت جریان دارد. این دفتر در خبرنامه خود افزوده« اداره محلی هرات به تسـریع روند کار این پروژه ی بزرگ اقتصادی کشـور متعهد بوده و سـهولت های لازم را برای پیشرفت سریع آن فراهم کرده است». ساخت این خط لوله از ۱۵ دسامبر ۲۰۱۵ از ترکمنستان آغاز شده و انتظار می‌رفت که این پروژه تا سـال ۲۰۱۹ به پایان رسد، که اینطور نشد. این پروژه در سـال ۱۹۹۷ در زمان که امارت اسلامی بار اول در افغانستان زمان امور را در دست داشت پیدا شد؛ اما تطبیق آن ضرورت به زمان و شرایط داشت. در سـال ۲۰۱۶ شرکت یونوکال رسـماً در داخل ترکمنستان کار را آغاز نمود تا ۲۰۱۸ م کار آن خاتمه یافت. در آن سال ها قرار بر این شد که تا سال ۲۰۱۸ م کار آن در افغانستان آغاز گردد؛ اما این کار تحقق نیافت، تا اینکه ظرف چند روز اخیر کار آن در ولایت هرات آغاز گردید. بنابر یک احصائیه طول مجموعی لولهٔ گاز تاپی ۱٫۸۱۴ کیلومتر اسـت و این لوله، گاز ترکمنسـتان را از طریق افغانستان به پاکسـتان و هند انتقال می‌دهد. ایـن لوله از ولایت‌های هرات، فراه، نیمـروز، هلمند و کندهار می‌گذرد و ۸۱۶ کیلومتر از مجموع ۱٫۸۱۴ آن در خاک افغانسـتان امتداد می یابد. خط لولهٔ تاپی سـالانه ظرفیت انتقال ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز را به سه کشور افغانستان، پاکسـتان و هند دارد. افغانستان که اصلاً نقش ترانزیتی در این پروژه دارد، خود از اسـتفاده کنندگان گاز وارداتی نیز خواهد بود. بر اساس توافقی که صورت گرفته، افغانستان در سه دهه، سه میلیارد متر مکعب گاز را از ترکمنسـتان به دست می آورد. در طول مسیر خط لولهٔ گاز تاپی، ۱۲ پمپ فشار نصب می‌شود که پنج دستگاه ی آن به ارزش یک میلیارد دالر در افغانسـتان احداث خواهد شد. به این ترتیب، هرات، فراه و کندهار نخستین ولایاتی هستند که از انرژی وارداتی استفادهٔ ارزان‌تر و گسترده‌تر خواهد برد.این پروژه که انتظار می‌رود تا چند سال آینده تکمیل شـود بیش از هفـت میلیارد دالر برای احداث ایـن خط لوله به مصرف خواهد رسید و بودجه گاز آن بیش از ۱۵ میلیارد دالر برآورد شده‌است. با بهره‌برداری از پروژهٔ تاپی، سالانه افغانستان گذشته از گرفتن گاز کافی از این پروژه، بیش از چهار صد میلیون دالر حق ترانزیت گاز بدست خواهد آورد. این خط لوله ۱٫۸۱۴ کیلومتری از میدان‌های گازی ترکمنستان آغاز می‌شـود و سپس از طریق افغانستان و پاکستان به هند امتداد می‌یابد. این خط لوله در کنار بزرگراه قندهار–هرات در غرب افغانسـتان امتداد یافته و پس از ورود به پاکسـتان از کویته و ملتـان می‌گذرد مقصد نهایی این خط لوله شـهر فاضلکا در هند خواهد بود. این پروژه برای افغانستان، از اهمیت استراتژیکی اقتصادی برخوردار است. نخستین مزیت این پروژه برای افغانسـتان درآمد عبور است که از طریق حق ترانزیت گاز برای این کشور به همراه خواهد داشـت. انتظار می‌رود که افغانستان سالانه چهار صد میلیون دالر از این طریق درآمد داشـته باشد، که می‌تواند در انکشاف زیـر بناها و بهبـود وضعیت اقتصادی مردم مؤثر باشـد. همچنین پروژه تاپـی می‌تواند به بهبود وضعیت انرژی داخلی افغانسـتان نیز کمک کند. از طریق این خط لوله، افغانسـتان قادر خواهد بود بخشی از گاز انتقالی را بـرای مصرف داخلی خود ذخیره کند. این امر به نوبه خود می‌تواند به تأمین انرژی پایدار و کاهش وابسـتگی خود به منابع خارجی کمک کند. پروژه تاپی نه تنها برای افغانسـتان بلکه برای کل منطقه اهمیت دارد. این پروژه می‌تواند به کاهش تنش‌های منطقه‌ای از طریق تقویت همکاری‌های اقتصادی بین کشورهای شرکت‌کننده کمک کند. همچنان از آنجا که هند و پاکسـتان هر دو با مشکل کمبود انرژی مواجه هستند، تاپی می‌تواند به عنوان منبعی پایدار و ارزان برای تأمین انرژی آنها عمل کند. افغانستان که بیشـتر از چهار دهه را درجنگ سـپری کرده و زیر ساخت هایش آسیب های فراوان را دیده اسـت، پروژه تاپی اهمیـت اقتصادی زیادی برایش دارد. در صورت پیروزی پروژه تاپی، چرخ اقتصاد کشور سریعتر خواهد شد. زمینه اسـتخدام در مسیرهای که پروژه تاپی از آن می گذرد افزایش خواهـد یافت و همچنان مردم که با کمبود انرژی مواجه هسـتند از گاز مستفید خواهند شد.

نیشنلیزم
دی چې ټولنې له منځه وړي

حیات الله حلیم

نیشنلیزم معنوي صبغه نه لري او د عصبیت هغه شانګه ده چې په پیل کې د ځینو کسانو په وجود کې د برتري طلبۍ د حس له وجې را پیدا کېږي نو ځکه د مسلمانانو تر منځ د الهي احکامو په رڼا کې مردود او ناروا بلل شوی دی، مسلمانان یوازې د تقوا پربنا پر یو بل فوقیت لري نه د نسب،قوم ، سیمې ، ژبې او نورو ملحوضاتو له مخې ، د عصبیت او نیشنلیزم عاملین هغه څوک ګڼل کېدای شي چې له ټولنې یې عقدې اخیستې وي نو ځکه یې کړنې او اعمال ټول د الله ج له قانون سره مخالف او مغایر وي، نیشـــنلیزم اکثره د کبر، غرور او لویې غوښتنې له وجې د یو شمېر کسانو په وجود کې تبارز کوي او د قدرت په صورت کې په نســبي، ژبني ، سیمه ییز لحاظ متفاوت وګړي خوند نه ورکوي ځکه نیشنلیســـت ته د ځینـــو ملحوضاتو پر بنا ځان په نورو لوړښکاري، دا ټولو ته څرګنده ده چې د پورتنیو احساساتو درلودونکي د الله تعالی له ســـخت وعید سره مخ دي ځکه د الله تعالی نورو بندګانو ته ټولنیز خطر ترې متوجې دی، د دې ډول کسانو شـــخصي خواص که په ځای پرېږدو او د دوی په وجود کې د دې مردودې پدیدې ریشـــه را وسپړو چې څنګه؟ دوی د نورو ســـاده او صادقو کســـانو اذهانو ته د قومي ، سیمه ییزو او لســـاني مشـــترکاتو له په لفافه کې په ډېره خوږه او فوق العاده نرمه ژبه د نیشنلیستي مفکورې زهر ور ترزیق کړي څو د ملت په پیکر کې داسې رخنه وکړي چې د یوه ټولنیز سرطان په بڼه را څرګند او ټولنه له نابودۍ ســـره مخ کړي، ځواب ساده او مقنع تحلیل دادی چې پنځوس کاله وړاندې افغاني ټولنه یوه منوره او بختوره ټولنه وه چې د هېڅ ډول ټولنیزو بدبختیو څرک نه په کې لیدل کېده خو کله چې روســـانو په افغانستان یرغل راووړ نـــو د نورو بدبختیو ترڅنګ یې د قومي برتریو ســـر آبي او زهرجن نظریات د ځینو ســـاده افغانانو اذهانو ته ور ترزیق کړل چې په نتیجـــه کې یې د افغانانو د مقدس جهاد داعیې ته هم انحـــراف او ملک یې د خپلمنځي کورګډیو جګړو په لومو کې راښـــکیل کړ، نو ځکه ویلای شو چې دا د بې اتفاقۍ او یو د بل د نه منلو یوه داســـې وارداتي پدیـــده وه چې د بهرنیانو د ستراتیژیکو ګټو په ډېر قوي اور پخه شوې وه او افغانستان یې د اوږدې مودې لپاره له ټولنیزو ستونزو سره مخ کړ.

که خبره له شف شف نه شفتالو ته را وباسونو په افغانستان کې د قومونو تر منځ د تعصب تفرقې او په نســـبي لحاظ د اعلی او ادنا ، اصیل او کم اصل مفکوره روسانو د خپل اشغال په وخت کې د یو شمېر ناپوه کســـانو ذهن ته ور ترزیق کړل او هغه یې د خپلو پاشـــل شـــویو ماینونو په څېر چې اوس هم له افغانانو قرباني اخلي د نیشنلیزم د مردودو نظریاتو قرباني کړل.

روســـانو نه یوازې افغانســـتان بلکې د نړۍ ډېر هېوادونه یې د نیشنلیســـتي مفکورې پربنا سره وپاشـــل چې ښه مثالونه یې د ختیځ او لوېدیځ جرمني را منځ ته کول او د ویتنامونو وېشـــل وو. تعصب هم زیاتره د نیشنلیستانو په وجود کې را څرګندېږي خو تبلیغات چې ورســـره ملګري شي ســـرعت یې یو په لسه زیاتېږي ځکه د تبلیغاتو له لارې دومره خطرناک او ژر سرایت کوي لکه د یوه انســـان په وجود کـــې د اچ ای وي ویروس په سرعت د ایډزپه ناروغي بدلېږي ، یوازې د یو ځل لپاره کفایت کوي چې د یوه رند، مفتن او متعصب له خولې هغه کسان چې دغه مفتن قومي او لســـاني مشترکات ورسره لري ، ذهنیت یې په منفي لورې واړول شي ، بیا هم دغه ټکي ته اشاره کوو،چې د تاریخ په اوږدو کې لیدل شوي چې ځینې ملتونه د نیشنلستي پوچو مفکرو او شـــعارونو تر اغیز لاندې راغلي او وروسته یې د تطبیق له وجې د ټولنیزې نابودۍ ســـره مخ شـــوي ، په پورته بدبختیو کې ساده اکثریت او رند اقلیت لوړ اهمیت لري ځکه هر څوک د داسې چا خولې ته غوږ نیسي چې چالاک ، چابک او خولـــه ور وي، اورېدونکي هېڅکله په دې پســـې نه ګرځي هغـــه څه یې چـــې د دغه رند له خولې واورېـــدل اخروي ګټه یې په کې شـــته او که دغه مفتن د خپلـــو ناوړه موخو په محور څرخولی دی، ځکه په پیل کې د متعصب نیشنلستي شعارونه مترقي او خوږه بڼه لري او د نیشنلیســـتي ګټو په پوره سپیڅلتیا دا شعارونه پورته کېږي،خو په پای کې داسې وخت هم راځي چې همدغه ساده قشر دومره تېر ایستل شوي وي چې وروسته وپوهېږي په دوی یوازې سیاسي سوداګري شوې ده.

په افغانســـتان کې لنډ تېر تاریخ او تجربو ښودله چې له ساده او صادقو خلکو ســـره څه وشـــول او څنګه د دوی ســـپېڅلې ارادې د یو شـــمېر ځان غوښتونکو د شخصي مفاداتو پرمحور وڅرخېدې؟ او کله چې هدف تر لاســـه شو،نو له هغه کسانو سره چې له دوی ســـره په ناروا کې ګډې شوي و، څه معامله وشوه ؟

موږ ولیدل چې د نیشنلیســـتي احساساتو پربنا را منځ ته شوی تعصب چې وروســـته په قوي او بې رحمه [تبعیض] هم بدل شـــو څومره خطرناکې پایلې ودرلودلې؟ خـــو بیا هم له نیکه مرغه اوس وینو، چې هر قوم ته منســـوب عام ولســـونه بیا هم په افغانســـتان کې موجود او هوسا ژوند لري او هغه رند کسان چې په یوه او بل نامه یې دوی تېر ایستلی وه د ملت په تشکیل کې نشـــته ، نو لازمه ده چې په هر ډول شرایطو کې عام ولس خپله تګلاره په خپله تشـــخیص او په هغه لاره روان شي چې خپله نیک مرغي او د الله ج خوښه په کې نغښتې وي، باطل له منځه تلونکی دی اوکوږ بار هېڅکله تر منزل پورې نه رسېږي ، ولیدل شول چې د نیشنلیزم په روحیه جوړ حکومتونه د خپل مقصود تر منزل پورې ونه رســـېدل ځکه موخې یې نا مقدسې وې.

تاریخ خو بدل او سرچپه نه لیکل کېږي او نه په حقیقي تاریخ سلیقوي تاریخ څوک قبلوي، له هغه څه به د افغانستان تاریخ پانه جوړېـــږي کوم چې په حقیقت ثابـــت واقعیتونه وي او په بالمشاهده توګه په تېرکې واقع شوي وي ، اشغال او استعمارته هېڅوک روا بڼه نشـــي ورکولای او نه د تېرو شلو کلونو په ترڅ کې اعمال شـــوي حرکات د چا په نیکي او ســـر لوړۍ دلالت کولای شي.

په وروســـتۍ نتیجه کې دغ ټکي ته اشاره کوو،چې نیشنلیزم له نورو قومونو ســـره تعصب زېږوي او پربنا یې د را منځ ته شویو حکومتونو د واکمنو د لید زاویه د نورو قومونو په مقابل کې ډېره تنګه او د ځان لپاره ډېرې پراخه وي، خو د دې شومې پدیدې د وروستي عملکرد قربانیان بیا هغه ساده او صادق مخلوق وي چې برناحق د بل د تبعیض په اور کې ســـوځېدلی وي ځکه په دې نا مقدسه جبهو کې یې د نورو په ګټه فکري او فزیکي برخه اخیستې وي ، د خپلو خبرو په وروستیو کې د دې ټولو ناروغیو د درملنې لپاره یو اساســـي اصل چې هغه عبارت له اســـلام څخه دی موجود دی چې هر قوم ته منسوب وګړي په صادقانه ډول د الله پاک د دین په رســـۍ ځانونه ونښلوي او خپل ژوند د اســـلامي اصولو په چوکات کې عیار او پرمخ بوسي ځکه په اســـلام کې د هر چا فردي او ټولنیزې ګټې او غوښتنې خوندي دي او هم یې د آخرت ګټه په کې نغښـــتې ده که چېرې الله مه کې څوک د نیشـــنلیزم په کړه او باطله لار روان شول نه یوازې خپل ځان ته به زیان اړولـــی وي بلکې خپل آخرت به یې هم له زیان او خســـران سره مخ کړی وي، ځکه دا څرګنده ده چې په افغانســـتان کې د حق لارویان د نیشنلیزم د پلویانو په پرتله سل سلنه زیات دي.

۳۶۰ خبرې

امین وردګ / دوه ویشتمه برخه

انسان او احسان

۱۰۶مـــه خبره- هغوی چې وایي (انســـان تابع د احســـان دی) مطلب یې احســـان منونکی شـــخص دی! یانې هغه کس چې احســـان فراموش ورته وایي، انســـان به وي خو انســـانیت به نه لري، یانې بې انســـانیته انسان! اوس تاسو پوه شوئ چې ما څه وویل؟

نفساني غوښتنې

۱۰۷مه خبره- نورو ته به وایې چې نفســـاني خواهشـــات مه کـــوئ، تباه کوي مو! خو پخپله به بیا په ســـجده کې لا حورې او غلمان غواړي.

خپل ځان ته توجه

۱۰۸مه خبره- خپل ځان ته ســـرې فقـــط هغه مهال متوجه کېږي چې احتیاج شـــي، ځکه خو یې هم اخلاق سمبېږي او هـــم له نورو ســـره اړیکې خـــوږوي، خو دا سمبښـــت او دا اړیکـــې بیا ده تـــه هېڅ ګټه هم نه رســـوي! اوس که تاســـو غواړئ چې شـــخصیتونه مو ترپوښـــتنو لاندې رانه شـــي، نو د اســـتغنا په وخت کـــې ځانونه ثابـــت کړئ، نه د احتیاج.

مینه او جرم

۱۰۹مه خبره- رب راته وایي چې (لایکلف الله نفســـاً الا وســـعها) او دی راته وایي چې مینه جـــرم دی او ته مجرم یې، نه پوهېږم چـــې دغه بې علمه زاهد ته څه ووایم!

د حکمت مفتي

۱۱۰مه خبـــره- الله پاک ورته وایي چـــې (ویغضضن من ابصارهـــن...) خو دی بیـــا وایي چې نه! ســـترګې پروا نه لري، فقط خولې دې پټې کړي.

افغان اعلانات

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حســـیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۵۴۶۶-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای احمد شعیب فرزند آغا شیرین بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۴۸

***

اطلاعیه فروش موتر

اســـامی محترم نور آغا فرزنـــد عظیم یک عـــراده موتر پلیت ۷۷۲۱۹-ل کابـــل نوع بنـــز خاور جرمنی خویـــش را بعد از طی مراحـــل قانونی خرید و فروش بـــالای الهام الدین فرزند جمعه گل بفروش رســـانیده است. بناء اشـــخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۷۴۵

عمان له افغانستان سره سیاسي ...

هغه ویلـــي: ((د بهرنیـــو چارو وزیر په افغانســـتان کې د لســـیزو جګـــړو پای ته رســـېدل، له نړۍ او ســـیمې ســـره د متوازنو اړیکو رامنځ ته کول، سراســـري امنیـــت د افغان حکومت مهمې لاســـته راوړنـــې وبللـــې او دا یـــې د بهرنـــۍ پانګونې په ځانګـــړې توګه د عمان د ســـلطنت او عماني ســـوداګرو لپاره د پانګونې ښه فرصت وباله)).

دغـــه راز د عمان بهرنیو چارو وزیر له افغانســـتان ســـره د اړیکو د پراختیا هیله ښـــودلې او ویلي یې دي، چې د دغه هېواد د هوساینې او پرمختـــګ په برخه کې مثبت دریځ لري.

نومـــوړي زیاتـــه کـــړې: ((غواړو له افغانســـتان ســـره، سیاســـي، اقتصـــادي او ســـوداګریزې دوه اړخیـــزې اړیکـــې لا پیـــاوړې کړي)).

ښاغلي البوســـعیدي د دواړو هېوادونو تر منځ د همکاریو د پراختیا او پر شـــته فرصتونو د پرله پســـې خبرو او عملـــي کار لپاره د ورته غونډو پر دوام ټینګار کړی دی.

سیاســـي شـــنونکي وایي، د عربي جزیرې په ګـــډون د نړۍ ځینې هېوادونه دې نتیجې ته رســـېدلي چې له افغانســـتان ســـره د اړیکو پراختیا د ټولو په ګټه ده.

سیاسي شـــنونکی عبید الله برهاني په دې اړه ویلي، چې یاد شوي هېوادونه فکر کوي، چې کولی شـــي له همدې لارې په ســـیمه کې خپلې موخې خوندي کړي.

د مولوي امیرخـــان متقي او بدر بند حمد البوســـعیدي ترمنځ دغه غونډه د افغانســـتان او عمان ترمنځ د همکارۍ د یو نوي پړاو د پیل نښـــه بلل کېږي، چې موخه یې د اقتصادي ودې او سیاســـي ثبات لپاره عملي ګامونه اخیستل دي.

داســـې ښـــکاري، چې افغانســـتان او عمان د یو بل د ظرفیتونو او اړتیـــاوو د درک کولـــو په حال کـــې دي او دا اړیکې نـــه یوازې د اقتصـــادي ودې لپاره یوه لوی فرصت ګڼل کېږي، بلکې د سیاســـي او ټولنیز ثبات لپاره هم یو ښـــه ګام دی.

نذیر منیب

چین خواهان لغو تحریم‌های شورای ...

کمک کنند.

ایـــن مقام دیپلوماتیک چین از کشـــورهای غربی خواســـت که بخاطر وضعیتی که در افغانستان ایجاد کرده‌اند به این کشور باید کمک کنند.

پیش از این نماینده دایمی روسیه در سازمان ملل متحد نیز در نشست شورای امنیت این سازمان خواهان تعامل و همکاری جامعه جهانی با امارت اسلامی شده بود.

د ملګرو ملتونو په لاس ...

راهیسې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ تر ۳۱مې امنیتي پېښې د پام وړ کمې شوي دي.

افغانســـتان کې شـــته امنیت د ســـیمې او نړۍ په کچـــه مثالي دی او الحمداللـــه پـــه اونیو او میاشـــتو بدې پېښـــې نه لـــرو. دا چې جرم د بشـــري تاریخ برخه ده، حتمي به ځینې پېښـــې فردي وي؛ خو په ټوله کې اللـــه تعالی پر افغانانو لـــوی رحم کړی او باید شـــکر یې پرځای شي.

ملګرو ملتونو د اســـلامي امارت په راتګ ســـره د افغانســـتان څوکۍ تروړلـــې او د افغـــان حکومت او افغانـــان دا حق یې ســـپمولی دی. ډېرې وخت یاد ســـازمان د افغان اســـتازو په نشتون کې د افغانستان پر برخلیک بحثونه کـــوي، چې دا په خپله لوی پراډوکس زېږوي. ملګرې ملتونه که په واقعي ډول غواړي، افغانســـتان له نړۍ ســـره ښکېل کړي او د افغـــان ملت ســـتونزې واوري، بایـــد ژر تر ژره د ملګـــرو ملتونو څوکۍ د اســـلامي امارت اســـتازو ته وســـپاري او افغان حکومت ته هـــم بویه چې ددې حق ترلاســـه کولـــو ته خپلې هلـــې ځلې لا ډېرې کړي.

توزیع پول نقد و صدها متریک ...

بربنیاد خبرنامـــه، ۱۶ میلیون افغانی پول نقـــد، ۵۶۰ متریک تُن مواد خوراکـــی حیوانـــی و ۸.۴ متریـــک تخـــم علوفه، شـــامل کمک‌های توزیع‌شده به مالداران در ولایت بدخشان است.

به گفتـــه وزارت زراعت، آبیـــاری و مالداری، کمک‌هـــای متذکره در همکاری موسســـه «ارتقای اجتماعی در راســـتای حمایت از سکتور زراعت و بهبود معیشت مالداران» توزیع شده است.

ایـــن کمک‌ها در حالی در اختیـــار هزاران خانواده مالـــدار در ولایت بدخشـــان قرار گرفته که این ولایت زمستان سخت و پُر برف را سپری می‌کند.

بدخشان از ولایت‌های کوهستانی در شمال‌شرق کشور است که بیشتر باشندگان آن به دام‌پروری مصروف هستند.

د تورخم ترلې دروازه؛ سوداګرو ...

پاکستاني سوداګرو سره په غونډه کې دواړو لورې دې پایلې ته رسېدلي چې د لا ډېرو زیانونو اوښتو مخنیوي په موخه باید حکومتونو ته قناعت ورکړل شي، چې په سیمه کې اوربند وشي او لاره باید بې قیده او شرطه خلاصه شي.

مجموعه شرکت‌های «ایران ترانسفو» ...

انرژی برق، توسعه شـــبکه‌های و تأمین تجهیزات مورد نیاز شبکه‌های برق، سرمایه‌گذاری کنند.

در خبرنامـــه آمده که سرپرســـت وزارت آب و انـــرژی از علاقه مندی شرکت‌های یادشده استقبال کرده است.

ملا عبداللطیف منصور تأکید کرده که بهتر است نشست‌ها و جلسات تخنیکی میان شـــرکت و ایـــن وزارت برگزار و پیرامـــون موارد مختلف گفتگو و به مرحله امضای تفاهمنامه برسد.

مجموعه شـــرکت‌های «ایران ترانسفو» به گروهی از شرکت‌های ایرانی و آلمانی گفته می‌شـــود که در بخش تولید انـــرژی برق و تجهیزات آن فعالیت دارد.

ابو نصر فراهي ګمرک کې ...

مټریکه ټنـــه توکو د ځایولو ظرفیت ولري او په جوړېدو ســـره به یې ســـوداګرو ته د سوداګریزو توکو د خوندي ســـاتلو په برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

یاده دې وي، چـــې د دې هنګرونو په پرانیســـتغونډه کې د ګمرکونو لوی ریاســـت د حمایت او پراختیا رییس په ګډون د اسلامي امارت ګڼو چارواکو ګډون کړی وو.

فعالیت غیرقانونی پنج دستگاه ...

فعالیت‌شان تثبیت و از ادامه آن جلوگیری شده است.

این دســـتگاه‌ها در مربوطات شـــهر جلال‌آباد مرکز ولایـــت ننگرهار فعال بودند و به همکاری نهادهای امنیتی فعالیت‌شـــان متوقف شـــده است.

در خبرنامه به نقل باشـــندگان جلال‌آباد آمده که از این تلاش نیروهای امنیتی و اداره اترا را ستایش کرده‌اند.

دســـتگاه ریپیتر یک نوع دســـتگاه‌های بازیافت ســـیگنال‌های بی‌سیم مخابراتی است که جهت تقویه سیگنال‌ها کاربرد دارد

شریعت

د دولتي ورځپاڼو رئیس:

انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰

مسئول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲

مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲

د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ

کابل ـ افغانستان

شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Shariat

Published by

Islamic Emirate of Afghanistan

Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies

0202526340

Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852

Email: info@shariatdaily.com

ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

Shariat Daily

Wednesday 12 March 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 705

نماینده دایمی روسیه در سازمان ملل متحد:

هیچ رویکردی جز تعامل با امارت اسلامی وجود ندارد

واسیلی نبنزیا، نماینده دایمی روسیه در سازمان ملل متحد می‌گوید، هیچ روی‌کردی جز ادامه همکاری و تعامل با امارت اسلامی در افغانستان وجود ندارد. نماینده‌دایمی روسیه‌در سازمان ملل متحد افزوده تنها هدف از تعامل و همکاری با افغانستان باید صلح و ثبات پایدار در این کشور باید باشد. او تأکید کرده که صلح و ثبات پایدار در افغانستان نه تنها که به نفع این کشور بلکه برای کل منطقه و جهان است. به گفته این دیپلومات ارشـد روسیه، روی‌کرد تعامل و همکاری با امارت اسـلامی باید بدون هرگونه فشار و یا باج‌گیری از سـوی کشورهای غربی انجام شـود. گفتنی‌است که شورای امنیت‌سازمان‌ملل متحد‌دوشنبه‌شب نشستی در مورد افغانستان برگزار کرده است.

د تورخم تړلې دروازه؛ سوداګرو په میلیونونو زیان لیدلی



د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستیال محمد یونس مومند وایـي، د تورخـم د دروازې د تړل کېدو له کبله هره ورځ د دواړو لورو سـوداګرو ته ۳میلیونـه ډالر زیان اوړي. مومند وایي، له ... ۳مخ

مجموعه شرکت‌های «ایران ترانسفو» به سرمایه‌گذاری روی پروژه‌های انرژی در افغانستان علاقه مندی نشان دادند

وزارت آب و انـرژی می‌گویـد، مسـوولین مجموعه شـرکت‌های «ایـران ترانسـفو» در دیـدار بـا ملا عبداللطیف منصور، سرپرست این وزارت، به سـرمایه‌گذاری روی پروژه‌هـای انـرژی در افغانسـتان علاقه مندی نشان داده‌اند.

به گفتـه وزارت آب و انـرژی، در این مسـئولین شـرکت‌های «ایران ترانسـفو» گفته‌اند کـه می‌خواهند روی پروژه‌های تولید ... ص۳

ابو نصر فراهي ګمرک کې د څلورو هنګرونو پروژه پرانیستل شوه

ماليـې وزارت د ابـو نصر فراهي په ګمـرک کې د ځـه باندې ۷۱ میلیونـه افغانیـو په ارزښـت د څلـورو هنګرونـو د چـارو لـه پروژې پرانیستې خبر ورکړی دی. یـاد وزارت وایـي، چـې د دې پروژې مالي لګښت له پراختیایي بودیجـې څخه ورکـول کېږي او چـارې به یـې تر راتلونکو لسـو میاشتو پورې بشپړې شي.

د معلوماتو لـه مخې، هر یو به په یوه وخت کې د ۵ زره ... ۳مخ

سرپل کې د ښاري سرغړونو مخنیوی وشو

د کـور او ښـار جوړولـو وزارت د ښاري سرغړونو د مخنیوي مسئولینو په سـرپل کې د ښاري سـرغړونو مخنیوی کړی دی.

د یاد وزارت د ښـاري سـرغړونو د مخنیـوي ریيس دامـلا محمد نور نوراني وایي، چې تخنیکي ټیم یې په دې ولایت کې د خپلو سرو ودانیو له جوړېدو مخنیوی کړی دی.

د معلوماتـو لـه مخـې، د کورونو خاوندانو ته لارښـوونه شوې چې د خپلو کورونو نقشـې ویـزه کړي او چارې د منل شوې نقشې له مخې پر مخ یوسي.

د کـور او ښـار جوړولـو وزارت د مسـوولینو په وینا، هېچاته اجازه نه ورکوي چې ښاري بې نظمي رامنځته کړي او خپلسري کارونه وکړي.

کندهار کې د نیالګیو ایښودلو کمپاین پیل شو

د کندهار ولایت د چاپېریال ساتنې ریاست مسئولین وایي، چې په دغه ولایت کې د نیالګیـو کینولو ملي کمپایـن د زینتي او میـوه لرونکو

نیالګیو په ایښـودلو سره پیل شوی دی. دا په داسې حال کې ده، چې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې په ټول هېواد کـې د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال نیالګیو ایښودلو ملي کمپاین پیـل کړی. د یـادې ادارې لخوا د کندهار لپـاره د (۳۰۰۰) نیالګیو سهم ټاکل شوی، چې له دې ډلې یې د ۴۵۰ اصله ناجوګان او نارنج نیالګیـو کینولو پروسـه د کندهار عمومـي عیدګاه پـه انګړ کې پیل شوې ده

فعالیت‌غیرقانونی‌پنج دستگاه ریپیتر در ننگرهار متوقف شد

وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی می‌گویـد، از فعالیت غیرقانونـی پنـج دسـتگاه ریپیتر (بازیافت سـگنال‌های بی‌سیم) در ولایـت ننگرهار جلوگیـری کرده است.

به گفته وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتـی، این دسـتگاه‌ها بدون داشـتن جواز و بگونه غیرقانونی در سـاحه کاری ایـن وزارت فعالیت داشت که از سـوی اداره خدمات مخابراتی (اترا) ساحه ... ص۳

اوکراین پر مسکو پراخ هوایي بریدونه کړي

اوکراین د روسیې پر پلازمېنه مسکو پراخ هوایي بریدونه کړي دي.

د راپور له مخې، اوکراین د بې پیلوټه الوتکې په وسـیله لږ تر لږ ۹۱ بریدونه کـړي دي. رویټرز د روسـیې چارواکو له قوله لیکلي، پـه دې برید کې یو تن وژل شـوی او ګڼ ویجاړی یې رامنځته کړی دی. د یادونې وړ ده، چې اوکرایـن له دې مهـال ټولټال ۳۳۷ اوکرایني ډرونونه د روسـیې پر فضا ور ویشتي دي.

احمد الشرع له مخالفو کردي ځواکونو سره د یو ځای کېدو تړون لاسلیک کړ

رویټرز راپور ورکړی، چې د سـوریې لنډمهالي ولسمشـر احمد الشرع د کردي په مشـرۍ (اېس‌ډي‌اېف) ځواکونو له قوماندان مظلوم عبدي سره د یو ځای کیدو تړون لاسـلیک کړی دی. د سـوریې ولسمشـري مانۍ ویلي، چـې د دې تړون له مخـې به «اېس‌ډي‌اېف» تـر کنټرول لاندې ملکي او پوځي ادارې د دولت له بنسټونو سره یوځای شي. په خپرو شویو انځورونو کې ښکاري، چې د سوري لنډمهالي ولسمشر او «اېس‌ډي‌اېف» قوماندان په دمشـق کې د دې هوکړې پر مهال یو بل ته لاس ورکوي.

زیلنسکي د سولې خبرو لپاره سعودي عربستان ته رسېدلی

رویټـرز د سـعودي دولتـي خبـري اژانـس (اېس‌پـي‌اې) د راپـور لـه قولـه لیکلـي، چـې د اوکرایـن ولسمشـر ولودیمیر زیلینسـکي د سـولې خبـرو اترو په پار سـعودي عربسـتان تـه د خپل سـفر په تـرخ کـې د دې هېـواد لـه ولیعهد محمـد بن سـلمان سـره کتلي دي.

په دې غونډه کې ولیعهد د اوکراین د کړکېچ د حل او د سـولې د ترلاسه کولـو لپاره د نړیوالو هڅو د ملاتړ ډاډ ورکړی دی.

د راپـور له مخې، واشـنګټن هیله لري چې دا به د روسـیې او اوکراین ترمنـځ د جګـړې د پای ته رسـولو لپـاره مهـم پرمختـګ رامنځته کړي.